# مشرقي ته سفر او خاطرې

## امین وردگ

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري له آدرسه، د مولوي غلام حیدر شهامت په مشرۍ، له نیمه لوړو زده کړو څخه د څلوېښتو زرو (۴۰۰۰۰) مجاهدینو د فراغتغونډو په لړ کې مشرقي ته لاړو، نو غواړم د یاد سفر خاطرات او تأثرات له خپلو درنو لوستونکو سره هم شریک کړم.

له کابل څخه مو ماسپښین مهال وروسته د جمعې له لمانځه حرکت وکړ، د ښاري بې مخینې ګمې ګونې له امله د کارته سخي پر غره واوښتو، د شهرنو او مکرویانو پر سینه تېر شوو، څرخي پل ته و رسېدو، خو هلته دنیا خاطرې رایادې شوې؛ هاغه د پولیګون له وحشتونه نیولې بیا د ناټو تر اشغال او تر پایه یې... خو دلته هغه الهي رحمتونه او نصرتونه هم را یاد شول چې دواړه واره (۸ ثور او [۲۴اسد/۹ سنبله]) له دغه وحشي بندخونې څخه ډلې ډلې مجاهدین په داسې حال کې را وتل چې خپلې غوټې او بسترې به یې پر شا او خولې به یې له خنداګانو ډکې وې! زه په همدغو خاطرو کې ډوب وم چې د ماهیپرتنګي ته کوز شوو؛ کږلېچونه، پیچونه او خمونه! کله پر راسته او کله هم پر چپه لاس به له غټو باروړونو لاریو څخه مخ او شا ته کېدلو تر دې چې لاندې یو ښکلې جومات ؤ! هلته مو د خپل مشر په امامت کې د مازدیګر جماعت وکړ او بیا روان شوو، له څه مزل وروسته مو یوه بل جومات ته ځانونه و رسوول او هلته مو د ماښام لمونځ په جماعت سره اداء کړ او پر یوه نسبتاً آرامه لاره د کنړونو شنو درنو ته ننوتو، همغو درو ته چې درېواړو سترو اشغالګرو (انګلیس، شوروي او ناټو) ته یې نه هېرېدونکي درسونه ورکړي وو او دغو مغرورو درو داسې کږلېچونه لرل چې رعب او وقار یې له ورایه ښکارېدلو، دا همغه درې وې چې په رښا ورځ به هم د دښمنو کاروانونه لا نشول پرې تېرېدلی، شپه خو دې پر خپل ځای وي! اما نن مونږ فقط څو محدود ملګري بې غمه پرې روان وو؛ د مجاهدینو د چیک او کنټرول کوم مرکز ته به چې کله و رسېدو، نو په احتیاط به یې د موټر دروازه راخلاصه کړه او په ډېر ادب او احترام سره به یې (السلام علیکم و رحمة الله و برکاته!) وویل، بیا به یې ستړیمشي-راکړه او له هغه وروسته به یې د شپې نوم وغوښت؟ مونږ ته خو د شپې نوم نه ؤ معلوم! نو ورته و به مو ویل چې مېلمانه یو! بیا به یې په ډېره مینه او خندانه خوله راته وویل چې له مونږ سره پاتې شئ؟ مونږ به خدای پاماني ترې واخیسته او روان به شوو.

کله چې د شپې ناوخته کنړ ته و رسېدو او هلته مو د ځایي ملګرو مینه او اخلاص ولیدل، نو لا متأثر شوو...خیر خو شپه مو ډېره آرامه او خوشاله تېره کړه، سبا لاړو د دوونیمو زرو (۲۵۰۰) مجاهدینو فراغت غونډې ته، چې له نیمه لوړ زده کړو څخه یې رسمي توګه فارېغېدل او د فراغت سندونه یې ترلاسه کول.

کله چې لوی تالار ته ننوتو، نو هلته د درې زرو په خواو شا کې څوکۍ ایښې وې او مونږ ته پر ستیج کوچونه برابر شوي وو، د قرآن کریم له تلاوت وروسته علماء کرامو ډېرې ښې خبرې وکړې، په ځانګړې توګه د

علماؤ د شورا رئیس وویل چې تخنیکي او مسلکي زده کړې ته نن سبا بیخي ډېره اړتیا ده او ټول ځوانان یې و هڅوول چې له نړۍ سره تګ ته علم ډېر ضرور دی! که علم څوک و نه کړي، نو خامخا د پرمختګ له کاروان څخه پاتې کیږي... د غونډې په پای کې ښاغلي شهامت صاحب خبرې وکړې چې ډېرې فصیحې او بلیغې، له حکمتونو او پندونو ډکې وې او اورېدونکو ته لوی پیغام پکې پروت ؤ؛ شهامت صاحب له محترم امیرالمؤمنین (حفظه الله) څخه مننه وکړه چې د مجاهدینو د مسلکي روزنې په برخه کې یې له دهٔ او د دهٔ له کاري ټیمونو سره ډېره عاجله مرسته کړې وه، همداراز د عصري زده کړو پر اهمیت و غږېدو او دا زده کړې یې نهایت اړینې و بللې.

کله چې خبرې پای ته و رسېدې، بیا د کنړونو د اوسېدونکو مشرانو او عالمانو له خوا ورغلو مېلمنو او ځینو ځایي مشرانو ته د اعزاز پګړۍ او سنتي پکولونه ور پر سر شول، له هغو وروسته د مېلمستیا تابیا نیول شوې وه او په ډېر اخلاص یې مېلمنو ته ډوډۍ ورکړه، له ډوډۍ وروسته مو په جماعت سره لمونځ اداء کړ او بیا مو مازدیګر مهال د ادب ښار ننګرهار ته حرکت وکړ، پر لارو ډېر ستر سکون موجود ؤ او د هېڅ ډول خطر احساس مو نهٔ کولو، په ننګرهار کې هم د مېلمستیا لپاره ډېر لوړ ترتیبات نیول شوي وو او سبا په مراسمو کې همداسې خبرې او چلند وشو لکه په کنړونو کې.

دا ورځ تېره شوه، ماښام لمونځ مو چې په جماعت سره اداء کړ نو بیا مو د لغمان په لور حرکت وکړ او پر لارو مو له بې ساري او بې مخینې امنیت څخه ډېر خوند اخیست؛ هر ځای به مو د لارو څنګ کې شخصي- موټر لیدل چې فامیلونه به پکې ناست وو او د هېواد له آزادۍ او آرامۍ څخه به یې ځانګړی خوند اخیست.

د شپې لغمان ته و رسېدو او هلته مو هم د کنړ او ننګرهار په توګه ښه عزت وشو او خلکو بیخي ډېره مینه راکړه، خو کله مو چې د سهار لمونځ په جماعت سره اداء کړ، نو بیا زهٔ د ورزش او آزادې هوا اخیستو لپاره بیرون ته ووتم او د هغهٔ غرهٔ لمنې ته لاړم چېرې چې پوهنتون جوړ شوی ؤ، دا یوهٔ آزاده دښته وه چې همدا اوس نوي (خو په اساسي او معیاري توګه جوړ) سرکونه پکې کش شوي وو؛ داسې سرکونه چې څنګونو ته یې پخې ویالې او د پلیو کسانو د تګ راتګ لپاره لارې هم په اساسي او معیاري توګه جوړې شوې وې، ومې لیدل چې عام خلک پر پیاده روونو روان وو، نرمش او ورزش یې کولو؛ بلې! دا لارې همغو ملایانو جوړې کړې وې چې د اشغال په وخت کې به د افغانستان بنیادي دښمنانو همدغه جوړونکي د آبادۍ دښمنان بلل.

د سهار چای مو چې کله و ښځلو نو د مراسمو ځای ته روان شوو، دا همغه پوهنتون ته نږدې ساحه وه چې سهار یې ما له پاکې او آزادې هوا څخه خوند واخیست، دلته د کرکټ پراخ میدان او تک شین چمن ؤ، مخامخا د مېلمنو لپاره ستیج په قالینو فرش شوی ؤ او نرمې توکشې پرې هوارې وې؛ حافظ د قرآن کریم ښکلی قرآت وکړ، بیا خبرې پیل شوې او علماءکرامو په مختلفو بڼو خبرې وکړې چې ټولې یې په تخنیکي او مسلکي زده کړو پورې تړل شوې وې؛ مانا دا چې د علماؤ د شورا رئیس په ګډون ټولو محترمو دیني

عالمانو، ناستو ځوانانو ته همدا توصیې کولې چې ((پرته له علم څخه نهٔ نظام جوړیږي او نهٔ هم هېواد...)) نو باید ټول ځوانان د عصري زده کړو پهٔ زېور سره مزین شي.

څو اهمې نکتې چې ما پهٔ یاد سفر کې حس کړې هغه پهٔ لاندې توګه دي

۱- پهٔ اسلامي نظام کې مشر او کشر یو وي، ځکه خو مشران خپلو کشرانو ته ډېره زیاته مینه ورکوي.

۲- د اسلامي نظام مشران ټول یا زیاتره یې دیني عالمان وي او دي، ځکه خو هر ځای کې امامت ته پخپله وړاندې کیږي.

۳- د اسلامي امارت مشران بې تکبره دي، ځکه خو چای ځان ته خپله اچوي او موټر هم خپله چلوي.

۴- پهٔ اوس وخت کې د رعیت او حکومت ترمنځ دښمني نشته، ځکه خو پر لارو تګ راتګ ډاډمن وي او دی.

۵- افغانان ټول سره ورونه دي، ځکه خو زموږ دومره ستر اعزاز او ګرم استقبال وشو.

٦- اوسنی حاکم نظام عادل او خداترس دی، ځکه خو خلک هم د شپې آرام دي او هم د ورځې.

۷- د یادو دریو ولایتونو خلک ډېر مېلمه دوست ؤ، ځکه خو زموږ داسې مېلمه پالنه پکې وشوه.

۸- هلته مېشتو قامونو یو له بل سره زیاته مینه لرله، ځکه خو یې یو د بل پر سرونو د اعزاز پګړۍ تړلې.

۹- دا چې پخوا پهٔ دغو غرو راغو او شنو درو کې بهٔ اشغالګر پهٔ ډار او وهم سره تېرېدل او اوس هېڅ مشکل نهٔ وو، لامل یې د ملت خوشالي، له حاکم نظام څخه رضایت دی او هم کلکه همکاري.

۱۰- سل پهٔ سل کې امنیت دی، ځکه خو موږ ټول یا زیاتره سفرونه د شپې له خوا کوو، دا د جهاد او پاکو وینو برکت دی! نو باید چې هېڅکله هم جهاد ته شا نهٔ کړو او نهٔ هم هغه پاکې وینې هېرو کړو چې له امله یې نن پر افغانستان د امن فضا لمنه غوړولې ده او موږ د اعزاز خاوندان شوو. الحمدلله